د خپرېدو نېټه: د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر ۲۱
د اړیکو او عامه پوهاوي دفتر
د امریکا د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیايي اداره
د تلیفون شمېره: ۰۷۰۰۱۱۳۵۵۳
برېښنالیک: KabulAIDDoc@usaid.gov
وېب پاڼه: www.usaid.gov/Afghanistan

مطبوعاتي اعلامیه

د افغانستان د قابله کانو ټولنې خپله یوولسمه کلنۍ غونډه ترسره کړه

هرات، افغانستان- د افغانستان د قابله کانو ټولنې خپله یوولسمه کلنۍ غونډه د مینډو او نوو زېږدلو ماشومانو د روغتیا د بنه کولو پر لارو چارو د بحث په موخه جوړه کړه. ددې کال غونډه "قابله کانې د یوې بنې راتلونکې لپاره" تر سرلیک لاندې جوړه شوې وه، چې پکې په افغانستان کې د روغتیايي خدمتونو د بنه کولو په برخه کې د قابله کانو پر ونډې رڼا واچول شوه.

د هرات والي ښاغلي محمد آصف رحیمي او د عامه روغتیا وزارت د خدمتونو مرستیالي ډاکټر ناجیه طارق دا دوه ورځنۍ غونډه چې پکې له ۳۵۰ څخه زیاتو کسانو ګډون کړی وو، پرانیسته. د افغانستان د قابله کانو د ټولنې په کلنۍ ناسته کې د مینډو او ماشومانو د روغتیا اړوند پالیسي جوړونکي، د روغتیايي خدمتونو ترسره کوونکي او ترلاسه کوونکي سره راټولېږي او دا په خپل ډول/ذات کې د افغانستان په کچه تر ټولو ستره غونډه بلل کېږي.

ښاغلي رحیمي تر ټولو اړمنو خلکو ته د روغتیايي خدمتونو د ترسره کولو په برخه کې د قابله کانو د قربانیو څخه د مننې ترڅنګ وویل: "زه ډاډمن یم چې ستاسې مسلک د ننګونو او ستونزو څخه ډک دی. تاسې په لېږې پرتو سیمو کې چېرې چې تاسو او ستاسو کورنیو ته لومړنۍ آسانتیاوې نشته، خدمت کوئ، خو بیا هم تاسې خپلې کورنۍ همدې سیمو ته بیولې او په ویاړ خپلو خلکو او هیواد ته خدمت کوئ."

د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي اداري د روغتیا او تغذیې د څانګې مشر چې د ویډیویي کنفرانس له لارې یې ګډونوالو ته خبرې کولې، قابله کانې وستایلې. هغه وویل:" قابله کانو په مکرر ډول د ښځو د یو تر ټولو لومړنیو حقونو څخه د ملاتړ او برابرولو په برخه کې چې د زېږون او امیندوارۍ په موده کې هغوی ته د ابرو روغتیايي مراقبت او مسلکي خدمتونو برابرول دي، خپله ورتیا ثابته کړیده."

دا کلنۍ ناسته د افغانستان د قابله کانو د ټولنې د غړو او همکارانو ترمنځ د قابله کۍ او د مینډو د خدمتونو په برخه کې د نړیوالو پرمختګونو په اړه د معلوماتو د آزادې تبادلې څخه ملاتړ کوي. دا غونډه د قابله کانو د نړیوالو بنسټونو او مرسته کوونکو سره همکاري او همغږي پیاوړې کوي. ددې ناسته په دوېمه ورځ د "کوچني پوهنتون" په نوم د ممارتونو د زده کړې یو رونیز کورس چې د مینډو او ماشومانو د مړینې څخه د مخنیوي په موخه یې د اغیزمنو هدفمندو فعالیتونو/اقداماتو په زده کولو تمرکز درلود، جوړ شو.

د افغانستان د قابله کانو ټولنه د ۱۵ غړو په درلودلو سره په ۲۰۰۵ کال کې جوړه شوه. اوس دا ټولنه په ټول افغانستان کې له ۳۰۰۰ څخه زیات غړې چې مسلکي قابله کانې یا د قابله کۍ زده کوونکي دي، لري. د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي اداري لخوا تمویلېدونکې د "حمایت پروژه" په تخنیکي او مالي برخو کې ددې ټولنې سره مرسته کوي ترڅو د نورو مرسته کوونکو سره یوځای دا کلنۍ ناسته جوړه کړي.

د امریکا ولس د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي اداري (USAID) له لارې د پنځوسو څخه زیاتو کلونو لپاره د نړۍ په کچه اقتصادي او بشري مرستې ترسره کړېدي.

USAID on Facebook | USAID on Twitter | USAID on YouTube | USAID on Flickr